آيا له تاسو څخه څوک نشي کولی چې هره ورځ زر نېکۍ ترلاسه کړي؟

له سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: مور د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وو نو هغه وفرمايل: «آيا له تاسو څخه څوک نشي کولی چې هره ورځ زر نېکۍ ترلاسه کړي؟» نو يو ناست کس ترې وپوښتل: څنګه زمور څخه يو څوک کولای شي زر نېکۍ تر لاسه کړي؟ هغه وفرمايل چې: «سل ځلې تسبيح ووايي، نو زر نېکۍ ورته ليکل کېږي او يا ترې زر ګناهونه کمېږي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

نبي صلى الله عليه وسلم له خپلو صحابه وو څخه وپوښتل: آيا له تاسو څخه يو څوک نه شي کولی چې هره ورځ زر نېکۍ ترلاسه کړي؟! يو ناست کس وويل: يو انسان څنګه کولی شي په اسانۍ سره په يوه ورځ کې زر نېکۍ ترلاسه کړي؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: "سل ځلې به (سبحان الله) ووايي" نو زر نېکۍ به ورته وليکل شي؛ ځکه هره نېکي لس چنده حسابېږي، اويا به يې له ګناهونو ترې زر ګناهونه پاک شي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3762